د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

**شماره: ۳۰۳** (از ۴ الی ۱۱ جوزا ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

آنچه در این شماره می‌خوانید:

**افغانستان او روسیه؛ د یوې پېړۍ اړیکې او تازه بوختیا**

افغان روس اړیکې؛ د یوې پېړۍ پسمنظر ............................................ ۲

په افغانستان کې د شوروي اتحاد زېربنايي پروژو څو بېلګې په لاندې ډول دي.................... ۳

ډيپلماټيکه سليزه؛ د بوختیا تازه پړاو ................................................ ۴

**د افغان ماشومانو وضعیت**

د یونسیف لخوا خپاره شوي ارقام د افغان ماشومانو د خواشینونکي حالت څرګندونه کوي............. ٦

په افغانستان کې د ماشومانو وضعیت.................................................. ۷

د نړۍ ماشومان........................................................................ ۸

د ښه کېدو لپاره هیلې.................................................................. ۹

پایله.................................................................................. ۱۰

## افغانستان او روسیه؛ د یوې پېړۍ اړیکې او تازه بوختیا



افغان-روس ډیپلماټیکې اړیکې سره له دې چې په تاریخي منظر کې د احمدشاه بابا او امیر شیرعلي خان تر دورو رسېږي خو د معاهدو او پوهاوي لیکونو په کچه دغه دوره د غازي امان الله خان له دورې پیلېږي. افغان-روس اړیکې یوازې تشریفاتي او سمبولیکې نه دي پاتې شوي، دغو اړیکو له لرغونو سړو راشه درشه نیولې بیا د محمد ظاهرشاه او محمد داودخان تر واکمنیو او د ثور تر کودتا بیا تر دې دمه فعالې او بوختې مرحلې لرلي دي. شوروي په افغانستان کې د انکشافي پروژو، تعلیمي بورسونو او فرهنګي مشارکتونو تر څنګ دلته نظریاتي او نفوذي بوختیا او د دې بوختیا په تناظر کې د ځانګړو خلقي ګوندونو او وروسته د یو شمېر جهادي تنظیمونو د حمایې له لارې د افغانستان د وروستۍ نیمې پېړۍ په لویو قضیو کې د دخیل او مطرح لوبغاړي په توګه نقش لرلی.

### افغان روس اړیکې؛ د یوې پېړۍ پسمنظر

کله چې غازي امان الله خان له انګلیس نه د استقلال جګړه وګټله او په داخلي او خارجي سیاستونو او چارو کې یې د بشپړې خپلواکۍ اعلان وکړ، شوروي له لومړیو هېوادونو و، چې دغه نوې خپلواکه شاهي یې په رسمیت وپېژندله، او وروسته بیا د دواړو هېوادونو تر منځ په لومړۍ معاهده کې د افغانستان د خپلواکۍ په رسمیت منلو سربېره د دواړو هېوادونو تر منځ همکارۍ لاسلیک شوې، تر دې وروسته بیا د نظامي تړون په امضا کولو سره شوروي له افغانستان سره نظامي مرستو ته ژمن شو او په دې سلسله کې یو شمېر افغان زده کوونکي د پیلوټۍ په برخه کې شوروي ته ولاړل. تر دې وراخوا د لېنن او غازي تر منځ د لیکونو تبادله هم ترسره شوې وه.

دغه اړیکې د غازي امان الله خان د واکمنۍ تر سقوط وروسته د محمد نادرخان په پاچاهۍ کې بیا ځلې د معاهدې په امضا کولو سره تجدید شوې. د محمد ظاهر شاه په واکمنۍ کې بیا هم له شوروي اتحاد سره د پخوانیو معاهدو په

تعقیب نورې معاهدې امضا شوې، په دغه مرحله کې د افغانستان پرمختګ لپاره ماسټرپلانونه طرحه شول، د محمد داودخان په صدارت کې لومړنی پنځه کلن ماسټر پلان طرحه شو، دغه پلان د ۱۹۵۶-۱۹۶۱ پورې و، د دغه پلان لپاره شوروي کادرونه کابل ته راغلل او د پلان وزرات کې یې د افغانستان لپاره ماسټر پلان طرحه کړ. ورپسې دویم ماسټر پلان، دریم ماسټر پلان او بیا د ثور په کودتا سره نوی ماسټر پلان هم طرحه شو، خو بریالي ماسټر پلانونه لومړني دوه ماسټر پلانونه وو، چې له امله یې په لسګونو زېربنایي سترې پروژې بشپړې او ګټنې ته وړاندې شوې.

دا چې محمد داودخان په چپي ګوندونو په ځانګړي ډول پرچم کې ملاتړ درلود او له بلې خوا په سیمه کې نوي جغرافیوي تغیرات داسې وو، چې په کې امریکا د افغانستان په نسبت پر پاکستان ډېر باور کاوه؛ له همدې امله افغانستان له شوروي سره تودې اړیکې ودرلودې، البته دا په دې مانا نه چې ګنې د شوروي په وړاندې د اړیکو د توازن هڅه نه وه شوې، افغانستان د خپلو نظامي او اقتصادي پرمختګونو لپاره د امریکا د توجه را اړولو ډېره هڅه وکړه خو هغوی د دغسې توجه په حد کې نه وو، خو بیا هم امریکا په افغانستان کې یو شمېر لویې پروژې حمایه کړې، په دغو لویو پروژو کې د کندهار هوایي میدان، د هلمند وادي پراختیایي پروګرامونه، د کجکي برېښنا بند او داسې نور وو.

په هر صورت د امریکا او په مجموع کې غرب په مقابل کې شوروي اتحاد له افغانستان سره په پراخه کچه اقتصادي-اجتماعي میدانونو کې مرستې وکړې، د شوروي اتحاد د مرستو عمده خاصیت دا و، چې هغوی دلته زېربنایي پروژې ابادې کړې، دغه پروژې تر دې مهاله د افغانستان لپاره زېربنایي دي، حتی د امریکا په تېر اتلس کلن شتون کې او د دوی په دا دومره ډېرو ډالرو کې دوی داسې زېربنایي جوړښتونه رامنځته نه کړل چې د نیمې پېړۍ مخکې شوروي له زېربنایي پروژو سره دې پرتله شي. د امریکایي پېر پروژې اکثره روبنایي او لنډمهاله دي.

په افغانستان کې د دغو زېربنایي پروژو سره شوروي مرستې هم بلا عوضه وې او هم اوږد مهاله پورونه وو، دغو پروژو افغانستان د صنعتي کېدو خواته بیوه، په هغسې یو فقیر او ناصنعتي افغانستان کې د شوروي سوسیالیستي مبارزو لپاره نه فیوډالان وو او نه کارګران، شاید د دغو ډېرو پروژو په ابادۍ کې دا فلسفه نغښتې وه چې لږ تر لږه دلته کارګري طبقه رامنځته کېده او په دې کارګرانو کې بیا د شوروي اتحاد په سبک کارګري اتحادیې ایجادېدې، دغو اتحادیو بیا په خپل نوبت د مارکسېزم په فلسفه کې د انقلاب شعار پورته کاوه.

## په افغانستان کې د شوروي اتحاد زېربنایي پروژو څو بېلګې په لاندې ډول دي

د کابل او بغلان سیلو، د جنګلک موټر جوړونې کارخانه، د درونټې او نغلو برېښنا بندونه، ننګرهار د اوبو کانالونه، ننګرهار د مالټو او زیتونو فارمونه، کابل پلخمري لوی سړک، د کندهار، هرات او تورغونډۍ لوی سړک، د سالنګ تونل، د کابل، بګرام، شینډنډ، کندهار او کندز هوایي میدانونه، د کابل مکروریان، د کابل څلورسوه بستریز روغتون، بېلابېلې کارخانې لکه؛ د مزار شریف کیمیاوي سرې کارخانه او د کابل کورجوړونې کارخانه، په شمال کې د ګاز او نفتو تفحصات، په کابل کې د پولیتخنیک پوهنتون او داسې نورې په لسګونو پروژې.

کله چې خلق ګوند پر محمد داودخان کودتا وکړه تر دې مرحلې وروسته بیا هم معاهدې لاسلیک شوې، خو د افغانستان دودیزې ناپېیلې ډیپلماسۍ له شوروي سره د خلق ډیموکراتیک حکومت نظریاتي خپلولۍ ته ځای پرېښود. په دغه

مرحله کې د خلق ډیموکراټیک حکومت او شوروي چارواکو تر منځ اړیکې خورا تودې شوې او دوی په پرانیستي ډول د لویو لویو وطنیو قضیو په اړه ګډ مجلسونه، ټیلیفوني اړیکې او راشه درشه درلودل. دغه اړیکې د ملي حاکمیتونو پر ځای د نظریاتي او مارکسېستي شریکانو کچې ته شول.

## ډیپلماټیکه سلیزه؛ د بوختیا تازه پړاو

د ۱۹۱۹ مۍ اوه ویشتمه د افغان روسیې په تاریخ کې د لومړنۍ ډیپلماټیکې اړیکې ورځ په نوم یادېږي، دغه اړیکه له انګلیسه د ازادۍ ګټونکي غازي امان الله خان او نوي رامنځته شوي شوروي اتحاد تر منځ رامنځته شوه، او وروسته بیا دا اړیکه په بېلابېلو دورو کې نوره هم ټینګه شوه. له ۱۹۱۹ تر ۲۰۱۹ پورې یوه پېړۍ زمانه ده او په دې زمانه کې افغانستان او شوروي اتحاد د له دوه سیالو هېوادونو له سطحې نیولې د شوروي اشغال تر حده د اړیکو لوړې ژورې دواړه تجربه کړې.

کله چې د ۲۰۱۹ مۍ ۲۷ مه رارسېده، د پخواني شوروي اتحاد ځایناستې روسیې دغه ورځ د دوديزې یادونې پر ځای د افغانستان په قضیه کې د یوې فعالې ډیپلماسۍ د ور په توګه وکاروله، که نه روسیه له نورو هېوادونو سره هم ورته د لومړنیو ډیپلماټیکو اړیکو ورځې لري؛ ایا کله یې دغسې ورځې په ځانګړیو ترتیباتو لمانځلي؟ خو دا یو ښه پرمختګ دی، روسیې د محمد داودخان د واکمنۍ تر سقوط وروسته په افغانستان کې د مستقیمې او نامستقیمې جګړې سیاست لرلی، نن چې دوی په افغانستان کې د سولې خبره لري دا هغه مشترکه ګټه ده، چې روسیه او افغانستان دواړه په کې شریک دي او ورته اړتیا لري.

د افغانستان د ښکېلو لوریو سره د روسیې د اړیکو په منظر کې دا تحول هم نوی دی، چې روسیه له طالبانو سره د خبرو اترو او اړیکو له مخې د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د ځانګړیو تنظیمي اړیکو حصار ماتوي او دا اړیکې هم په تنظیمي لحاظ او هم په ایتنیکي لحاظ متنوع کوي.

که روسیه له زړه غواړي، چې په افغانستان کې سوله راشي نو اړینه ده، چې د داسې خبرو اترو چاپېریال رامنځته کړي چې هلته د طالبانو، افغان حکومت او بېلابېلو معتبرو سیاسي-اجتماعي لوریو جدي او ارزښتي خبرې اترې ترسره شي. دا چې د مسکو په دغه فورم کې ټول افغان لوري او ورسره روسیه هم له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو سلا دي او پرې تاکید کوي؛ دا د افغانستان د ملي ګټو لوړه څوکه ده، هیڅ افغان نه غواړي، چې هېواد کې دې یې بهرنیان پر جنګېدونکي مشن پراته وي، دا د افغانستان د ملي خپلواکۍ تر ټولو لویه داعیه ده او افغانان په دغه داعیه کې تل مبارز پاتې شوي.

د جهادي کرښې یوه تجربه شوې قضیه دا هم ده، چې د دوی ډېر ترکیز پر جنګ راټول وي، دوی د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې بوختیا لپاره لازم تیاری او تمرین نه لري، له همدې امله دوی تل د جنګ له زاویې مسایلو ته ننوځي، او دا یو حقیقت دی، چې د جنګ دا زاویه تل د بېلابېلو فکتورونو تر اغېز لاندې لویه او کوچنۍ کېږي، طالبان باید په دې مرحله کې د سولې په قضیه کې د پخوانیو جهادي تنظیمونو تجربه له پامه ونه غورځوي، د سولې لپاره مناسب وختونه تل نه مهیا کېږي او په جنګ او سوله کې ځواکمنتیا هم تل نه وي، همدغه مناسب وخت او ځواکمن وجود په سوله کې

ځوربه برخه ټاکي. پخوانیو جهادي تنظیمونو چې د سولې د اړتیا پر مهال به یې سوله ټوله د خپلو معیارونو پر بستر غوښته خو داسې مرحلې هم پرې راغلې چې بیا په کې دوی ټول له خپل بستر سره په وطن کې د شپو او ورځو درک نه لرلو. طالبان د قضیې د یو خورا مطرح لوري په توګه نن د خپل عروج پر هسک دي، دوی ته په کار دي چې د سولې پر نازکو لارو پوه وي.

طالبان د خبرو اترو په مسیر کې باید یوازې له خپله لیده ونه ګوري، د افغانستان قضیه په غټه کې یوه ملي قضیه ده او دلته حتی له کوچني نفوذي ګروپ له پامه غورځول د راتلونکي بلې فاجعې لپاره بس ده. طالبانو سره دا ښه ښکاري، چې دوی په افغاني کچه د افغان حکومت سره د خبرو اترو محور نفی نه کړي، که طالبان له حکومت سره خبرې اترې ونه کړي نو په دې صورت کې یوازې د بهرنیانو وتل به هیڅکله دغه جنګ ته پای ورنه کړي، بهرنیانو لپاره دا ډېره اسانه او ارزانه ده، چې دلته دې د هغوی ځاني تلفات نه وي خو د هغوی جنګ دې دلته دوام ولري او دغسې ارزانه جګړه هغوی پورته کولای شي.

که روسیه غواړي په افغانستان کې مثبت نقش تر سره کړي او ښې اړیکې له سره پیل کړي نو د سولې په قضیه کې باید ناپیېلتوب او ښه اراده ثابته کړي، له دې ور اخوا روسیه باید د افغانستان په بیا رغونه کې سخاوتمندانه برخه واخلي، په دې ډول به دوی له یوې خوا د هغه جنګي تاریخ ځپرکی وتړي چې دوی په کې دلته تر یو میلیون شوروي عسکر په دوراني ډول بوخت ساتلي وو، له بلې خوا به د نوي افغانستان په زېربنا کې روسیه عملاً د خپلې دوستۍ ثبوت ورکړي، روسیه باید دا درک کړي چې دوامداره کراري او امن د اقتصادي پرمختیا او ټیکاو پرته امکان نه لري او کله چې دغسې ټیکاو په افغانستان کې نه وي نو د دې جنګ اورونه بیا په افغانستان کې نه تمېږي او دا به د روسیې پر واقعي پولو اوړي.

په افغانستان کې د روسیې د انکشافي همکارۍ لپاره دا هم اړینه ده چې افغان حکومت د روسیې د مرستو جلبولو او تطبیق لپاره شرایط برابر کړي. لږ تر لږه افغان حکومت باید د روسیې هغه ژمنې تعقیب کړې وای، چې دوی په کې له ۱۳۹۲ را په دې خوا د پخواني شوروي اتحاد د نیمګړو پروژو د بشپړتیا او بیارغاونې وعدې کړې، دا تعقیب د امریکا او سیمه ییزو قدرتونو تر منځ د افغانستان ناپیېلتوب په زبات رسوي او دا د افغان حکومت په رهبرۍ پورې اړه لري چې څرنګه کولای شي د امریکا او ناټو شتون د روسیې د مرستو جلبولو لپاره د ننګونې پر ځای پر یو فرصت تبدیل کړي؟

## د افغان ماشومانو وضعیت



په افغانستان کې د بل هر قشر تر څنګ ماشومان هم زیات ځوریدلي او کړیدلې دي، مګر څرنګه چې ماشومان د خپل ځان لپاره د لویانو په څیر اهتمام او توجه نشي کولای، تر څو خپل حق وغواړي، او ځان ته مناسب چاپیریال برابر کړي په همدې خاطر باید لویان، شخصیتونه، اداري او دولتونه د ماشومانو حقونه د خپل کاري پلان په لمړیتوبونو کې ونیسي او توجه ورته وکړي. په افغانستان کې نږدې ۱۴ میلیونه کوچنیان (له ۱۸ کلونو کم ) ژوند کوي، ٦ میلیونه کوچنیان یې په خطرناکو شرایطو کې ژوند کوي، او هرکال نږدې ۱ میلیون ماشومان نوي زیږي. د دوی سالمه روزنه، روغتیا ته لاسرسی، او تفریحی چاپیریال کې اوسېدنه د دوی بنستیز حقونه دي. د جوزا لمړۍ نېټه په هیواد کې د ماشومانو د ورځې په نوم لمانځل کیږي، له همدې امله مو د اوونۍ په تحلیل کې، په وطن کی د ماشومانو خواشینونکي حالت باندې شننه کړې.

### د یونسیف لخوا خپاره شوي ارقام د افغان ماشومانو د خواشینونکي حالت څرګندونه کوي

یونسیف اداره چې له ۱۹۴۹ کال راهیسې په افغانستان کې د کوچنیانو د روغتیا، تعلیم، پاکو اوبو... په برخه کې فعاله ده په خپلو وروستیو راپورونو کې پر خپله پانه یو شمیر ارقام خپاره کړیدي، دغه ارقام په لاندې ډول دی:

- په هرو ۱۸ ماشومانو کې یو تن یې نشی کولای خپله لمړنۍ کلیزه وویني.

- ٪۴٦ سلنه ماشومانو چې عمرونه يې له ۱۲-۲۳ میاشتو دي خپل بنسټيز واکسینونه ندي پوره کړي.
- په درېیو کې یوه نجلۍ له ۱۸ کلنۍ مخکې ودېږي.
- په هرو ۵ ماشومانو کې ۲ يې مکمل ذهني او جسمي انکشاف نه کوي.
- په هرو ۴ کې ۱ کوچنی کم وزنه دی.
- له ۵ کلونو کم ۱.۳ میلیونه کوچنیان د سوء تغذي درملنې ته اړتیا لري.
- نږدې ٪۵۰ سلنه د څښلو اوبه په غایطه موادو ککړې دي.
- نږدې له ۴ میلیونه زیات خلک اوس هم په ازاده هواء کې حاجت پوره کوي.
- ۳.۷ میلیونه کوچنیان چې ٪٦۰ سلنه يې نجونې دي؛ ښوونځی ته نه ځي.
- له ۱۵ کلونو څخه کمو نجونو یوازې ٪۱۹ سلنه يې لیک لوست کولای شي.
- افغانستان لا هم د نړۍ له هغو ۳ هیوادونو څخه دی چې له پولیو( فالج) څخه رنځ وړي، په ۲۰۱۷ کال کې ۱۴ د پولیو پېښې په دې هیواد کې ثبت شوې دي. چې په وروستیو دوه کلونو کې پرې یو څو نورې هم ور اضافه شوې.
- ٪۳۱ بالغې نجونې کم خونه دی.

## په افغانستان کې د ماشومانو وضعیت

جګړه د بدبختیو زېږوونکې یوه داسې عمل دی چې د یو هېواد په څو نسلونو يې ناوړه اغېزې پاتې کېږي. افغانستان چې څو لسیزې پرله پسې د جګړو ډګر دی دا هېواد يې له جدې اقتصادي او ټولنیزې بې ثباتۍ سره لاس او ګرېوان کړی دی، ددې تر څنګ پر له پسې جګړو، ددې هېواد د ځوان نسل د ښوونې او روزنې حالت ته دومره تاوان و اړولي چې زموږ هېواد ته د سولې راتګ او ټیکاو هم ټکنی کوي. جګړې که د هېواد په هر ټولنیز پاړکي خپل اثر پرېښی؛ خو تر ټولو زیات زیانمنیدونکي قشرونه ماشومان دي چې له یوې خوا يې جګړو له سره د سر پرست سیوری اخیستی او بې برخلیکه پاتې شوې دي او له بلې خوا يې په ښوونه او روزنه کې د اوږد ځنډ له امله د ټولنې ثبات ننګولی دی، په افغانستان کې جګړې، خراب اقتصادي وضعیت، د مکتبونو نشتون او په سختو کارونو کې د ماشومانو ښکېلتیا هغه څه دي چې دلته بحث پرې شوی دی

### 1 - د مکتب نه محروم ماشومان

د ګنو عواملو لکه ناپوهي، رواجونو، ناامني، فقر، د نږدې مکتوب نه شتون، ټيټ کیفیت لرونکې ښوونځیو او استادانو… له امله نږدې ۴ میلیونه ماشومان ښوونځی ته نه ځي. هر افغان باید مسؤولیت لري، چې هر کال ښوونځي کې د خپلو

اولادونو د شاملولو په وخت کې د هغوی کوم همزولي له مکتب محروم دي ، د هغوی مور او پلار ته قناعت ورکړي او ښوونځی کې یې شامل کړي، که مور او پلار یې نه درلود، باید کم تر کمه د یوه بې سرپرسته ماشوم سرپرستي په لاس کې واخلي او د خپل اولاد غوندې سرمایه گذاري پرې وکړي. ملي تجاران، سیاسی شخصیتونه، مخور اشخاص، دینی عالمان خصوصي او دولتي ښوونځیو مالکان باید په گډه دا ملي ماموریت په غاړه واخلي که دوی دا کار ونکړي، همدغه کوچنیان به بیا دوی او ټول هیواد ته درد سر وي. او د دوی اولادونه به ترې په ارامه ساه وانخلي.

## 2 - جنگ او ماشومان

جنگ او ناامني هغه پدیده ده چې زیاتره ماشومان یې په لمړي ځل تجربه کوي، نو په همدې خاطر یې ویره د لویانو په نسبت زیاته ده، د ماشومانو د ساتلو د ادارې د راپور په اساس تېر کال نږدې ۴۰۰ ماشومانو په مختلفو حادثو کې خپل ژوند دلاسه ورکړی، همدارنگه یوازې په ننگرهار کې په لسگونه تعلیمی ادارې د مسلحو مخالفینو له خوا هدف وگرځیدلې. همدارنگه د دولت او مخالفینو تر منځ د تفاهم او پوهاوی د نه شتون له امله د غزنی، هلمند، ارزگان په گڼ شمیر ولسوالیو کې حتی یو ماشوم هم په تعلیم او تربیه ندی بوخت، او په کال کې حتی یو تن هم د کانکور په آزموینه کې گډونه نه کوي د وروستیو راپورونو پر بنسټ نږدې ۳.۵ میلیونه افغان ماشومان د ناامنیو له ا مله ښوونځی ته نشی تللای. دا چاره په آینده کې د یوې بې سواده ټولنې بد زیری د ځان سره لري، کوم چې کیدی شي د افغانستان دښمنانو ته د خوښۍ زیری وي، خو افغانانو ته تر دې بد خبر نشته.

## 3- کاریگر ماشومان

په نوره نړۍ کې د ماشومتوب دوره د ترحم، مینې ورکولو، او سرمایه گذارۍ دوره وي، په دې دوره کی ماشومان د لویانو لخوا تقدیر کېږي، اړتیاوې یې پوره او تعلیم ته هڅول کېږی، هغوی هیڅ هم د سختیو او مشکلاتو په نوم څه نه پیژني، لویان یې کوښښ کوي خپله یې وزغمي، مگر په افغانستان کې بدبختانه زیاتره ماشومان له لس کلنۍ مخکې د کور مسؤولیت په غاړه اخلي، کار کوی او زحمتونه گالي، د المان غږ راډیو د یوې سروې پر بنسټ نږدې ۱.۹ میلیونه ماشومان دافغانستان په مختلفو ولایتونو کې کار کوي، لامل یې هم روانه جگړه ده، دغه ماشومان ډېر ځله د فاسدو اشخاصو د شهوت رانیولو ښکار گرځي، په مخدره توکو معتاد کېږي، په جرمونو اخته کیږي، او کله کله خو د انساني قاچاق او ترهگرۍ چارو موخه هم گرځي. زیاتره ماشومان چې کار ته مجبورېږي د خښتو په بټیو، مال څرولو، مستري سره شاگردۍ، د ډېرو سکرو په کانونو، په بازار کې پلاستیکي کڅوړو خرڅولو کې بوخت دي. تر ټولو بد خبر خو لا دا چې د عدلیې وزارت او کورنیو چارو وزارت د راپورونو پر بنسټ نږدې ۱۰۰ زره ماشومان په مخدره توکو روږدې دي.

**4- اجباری ودونه**

که څه هم غربی میډیا په دې هکله د مبالغې نه ډک راپورونه خپروي، او خلکو ته دا فکر ورکوي چې شاید د دوی خپاره شوې ارقام نادرست او یو اړخیز وي، مگر مونږ او تاسې چې په سیمه کې وگورو دغه چاره لا هم پای نه لري، ا و کوچنۍ نجونې په مسلسله توگه ودېږي، دغه چاره په هغه لرې پرتو سیمو کې کېږي چېرته چې له یوې خوا سواد کچه ټیټه وي او له بلې خوا دیني پوهې کچه هم ټیټه وي، ولور لا هم د پلار حق گڼل کېږي، او کله چې پلار د عاید بله سرچینه ونه مومي، نو خپله کوچنۍ لور شتمن زاړه یا هم ځوان ته په نکاح ورکوي، او په دې توگه یو شمیر گلالي ماشومان د لویانو له بیرحمۍ او ظلم سره لاس او گریوان کېږي.

**5- د تغذیې د حالت خرابوالی**

که څه هم ډیرې لاسته راوړنې لرو، او د عامې روغتیا وزارت د تغذیې ریاست د کوښښونو په پایله کې د سوء تغذیې او کم قد سلنې ښکته شویدي، مگر بیا هم نږدې هر پنځم ماشوم د تغذیې ستونزې لري، په دې هکله د یونیسیف تازه راپورونه خورا خواشینونکی دي. سوء تغذي د ټولو ناروغیو مور ده، او ضعیفه ماشوم له یوې وړې ناروغۍ له لاسه خپل ژوند له لاسه ورکوي. د دې ناخوالو ټول لامل یوازې فقر ندی، بلکه زیات وس لرونکې کورنۍ هم د خپلو ماشومانو د سمې تغذیې په هکله لازم معلومات او پوهه نه لري. مختلف غیر صحي خواړه ماشوم ته ورکوي. همدارنگه په ازاده هواء کې د قضاء حاجت کولو له امله د هضمي ناروغیو کچه زیاتېږي، او ناروغ خوارځواکی او کم خونی ته بیایي.

**د نړۍ ماشومان**

په نوره نړۍ کې ماشومان لپاره ځانگړې قوانین ټاکل شوي لکه که په لویه لار کې موټر ته لاس ونیسي، موټروان مجبور دی چې موټر ورته ودروي، که داسې ونه کړي کوچنی حق لري، چې د موټر ښیښې ورماتې کړي، او پولیس ته زنگ ووهي، همدارنگه ماشومان د حفاظت په خاطر په موټرو کې په لمړۍ سیټ کې ناستې ته نه پریښودل کېږي. مکتبونه او وړکتونونه جبري دي. تر ټولو ستر او پوه استادان لمړني ښوونځي کې مقررېږي، هلته ماشومانو سره لکه د لویانو په درنښت چلن کېږي تلویزیونونه په مکرره توگه له تکړه ماشومانو سره مصاحبې کوي، او سیاسیون په خپلو پروگرامونو کې له ماشومانو سره ناستې کوي او ډول ډول پروگرامونو سره ماشومان تشویقوي. په ښوونځیو کې تقریباً ټول ماشومان ته انټرنټ لاسرسی لري، زیاتره عملي تجربې تاریخی ځایونه او شخصیتونه په انټرنټ کې تعقیبوی. همدارنگه ماشومانو لپاره جلا ټرانسپورټی سیستم دی، په ځینې ښوونځیو کې حتی د ډوډۍ خوړلو او استراحت لپاره هم ځایونه جوړ شوي دي.

## د ښه کېدو لپاره هيلې

افغانستان له دې ټولو ناخوالو سره سره ډېر با احساسه وګړي او اداري هم لري، زیاترو یې په شخصي مصرف ورکتونونه، مدرسې، د حفظ حلقې، یتیم خانې او نورې اداري جوړې کړیدي تر څو بی وزله ماشومان وروزي، په دې هکله، عامې روغتیا وزارت، د کار او ټولنیزو چارو وزارت، نړیوال روغتیایی سازمان، یونیسیف، سیف ده چلډرن اداري د کوچنیانو د ساتنې په هکله ګټور پروګرامونه بللای شو. د طالبانو لخوا دهغوی د کنټرول لاندې سیمو کې واکسین کوونکو ته د واکسین اجازه ورکول مثبت ګام دی، همدارنګه د افغانی سرې میاشتې لخوا په زړه کې د سوري لرونکو ماشومانو درملنه په وړیا ډول یو ستر ګام بللای شو. همدارنګه د یونیسیف نړیواله اداره بیا په ټول هیواد کې کوچنیانو ته واکسین، د چینجیو ګولۍ، د کم خونۍ ګولۍ، تدریسی توکي ورکوي. همدارنګه د عامې روغتیا وزارت د ماشومانو لپاره ځانګړې روغتونونه د ماشومانو د مړینې په کمولو کې ستر رول لرلی دی. د دې ټولو نا خوالو سر بېر چې په کمیت کې موجودې دي، د کیفیت ستونزه لا هم پر ځای او پراخه ده. له نیکه مرغه په افغانستان کې نېږدې۱۰ میلیونه ماشومان ښوونځیو ته ځي، دوی ته سالم درسي چاپیریال برابرول د هیواد د آبادۍ بنسټ جوړوي.

### پایله

ماشومان د ملتونو آینده او اساس دی، هر څوک چې زړېږی باید ټولنې ته ګټور ماشومان وړاندې کړي، د اولاد روزل، د ښوونځیو او مدرسو سره مرسته، هغوی ته مثبت نظر ورکول، د یتیمو او بېوزله ماشومانو کفالت او هغوی ته د تعلیم زمینه مساعدول د هر مسؤول مسلمان او افغان دنده ده. همدارنګه د جنګ ښکیلې خواوې هم باید د دغه معصوم مخلوق حقوق اداء کړي، او هغوی چې د خدای ج لخوا معاف دي، په هیڅ ډول باید مکلف نکړای شي، او نه هم ووېرول شي. دولت او مخالفین دواړه باید د روغتونونو، مساجدو، مدارسو ترڅنګ د ماشومانو مکتبونه او وړکتونونه هم د شنو ساحو په حیث قبول کړي، او هیڅ طرف باید ترې د فوځی پناه ګاه یا فعالیت ځای په ډول ګټه پورته نکړي.

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

ویب‌سایت: www.csrs.com – www.csrs.af

شمارۀ تماس دفتر: (+93) 202564049 - + 93 (0) 784089590

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.